وهمچنان شهادت اسلامی ساختیم
تابر مردم گواه باشید پیامبر بعلم شاهد باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (١٠١٥) سال هژدهم ،شمارهٔ (١٠١) یکشنبه (٢١) عقرب ١٣٧٤ هـ. ش (١٩)جمادي الثاني ١٤١٦هـ ق (١٢) نومبر١٩٩٥ م

براساس تبصره رادیومسکو:

شرایط ربانی برای کناره گیری ازقدرت بخاطربی بهره ساختن جنبش وطالبان درساختارحکومت بعدی است

کابل - ٢٠ عقرب :
عدم آماده گي رباني براي کناره گيري ازقدرت بـه مثابهٔ عوام فريبي وبدست آوردن وقت بيشتر دربرابر مخالفانش مي باشد .
راديومسکوضمن تبصره اي دراين مورد اعلان داشت تلاش رباني براي باقيماندن براريکهٔ قدرت فقط وفقط بي بهره ساختن طالبان وجنبش ملي اسلامي درساختارحکومت آينده ، چيزي ديگري نمي باشد.
درتبصره آمده است که رباني يکي ازشرايط استعفاي خودرا تأمين آتش بس دانسته است درحالي که طالبان اين شرط را تنهارتنها تجديد قوا وسازماندهي افراد نظامي ادارهٔ کابل عليه خود مي دانند وحاضر به پذيرفتن آن نيستند .
ازسوي ديگررباني مي گويدکه درحکومت آينده صرف نماينده گان احزاب اسلامي کـه در جهاد شرکت ورزيده اند شامل گردند که بازهم هدف ازآن بي بهره ماندن طالبان مي باشد .
درتبصره خاطرنشان شده است که رباني استعفاي خود را مربوط به قطع مداخلات خارجي کـه هدف ازآن مداخلهٔ پاکستان درامورداخلي افغانستان است مي خواند درحاليکه ناظران اوضاع هيچ دليلي براي اثبات مداخلهٔ پاکستان درامور داخلي افغانستان سراغ ندارند .

د وروروحکمتيار په مشرئ دحزب اسلامي اجرائيه شورا غونډه وکړه

پيښور- دعقرب ٢٠ مه :
دحزب اسلامي افغانستان اجرائيه شوراتن په پيښور کي سهارد حزب اسلامي د امير وروروحکمتيار په مشري غونډه وکړه .
د حزب اسلامي امارت پوه مسئول مقام شهادت ته ورپيل:غونډه دسهارتر لمانځه وروسته پيل اوترااوبجو پوري بي دوام درلوده پدي غونډه کي دهيواد درواونسياسي اونظامي تحولاتو پـه هکله تريخت وروسته پرلازم تصميمونه ونيول شول .

ورورحکمتيارشهيد غيوراودهغه دملگرودشهادت دلمانځني غونډي ته په ويناکي :

دژوند تر پايه به جهاد کوو ، دانجام پروا نلرو ، دعاقبت فيصلي خداي (ج) کوي

دحزب اسلامي افغانستان امير ورور «حکمتيار» دجمعي په ورځ هغي درندي غونډي ته چي دبرميال مجاهد ډگرجنرال

زمونږ اوطالبانو ترمنځ په شفاهي اوتحريري ډول په ډيرو ټکيو اتفاق شوی ◄ «غيور" د کابل اداري ديوی خاينانه توطيي په نتيجه کی شهيد شو

دکابل کرغيړنه اداره دپرديو دلاس اله ده او په جگړه ټينگارکوی ◄ په هيواد کی به خامخا سوله اوامنيت راځی اواسلامی حکومت به جوړيږی

په سلوکی اتيا مهاجرين دحزب وو دحزب اتيا زره غړی زندانی شوی او يو سلو پنځوس زره يی په شهادت رسيدلی

که طالبانو غلطی نه وای کړی ، اوس به جگړه ختمه وه ◄ که له طالبانو سره دحزب اسلامي مرسته نه وای ، لادوخته به دکندهار پريښودو ته مجبور شوی وو

ځينی له يوی خواتفاهم ته ضرورت لری ، مذاکرات يی روان وی خوبلی خواته قوم ته دخبرو اترو له موجوديت نه انکارکوی

ځيني بياداسي دي چي دمکی حرم ورته ټوکی ټکالی بريښی

غيوراوُهغه دملگرودشهادت دلمانځني له مفصله ويناوکړه . ورور «حکمتيار» امله په نصرت مينه کي جوړه شوي وه ، ترحمدوثناوروسته وويل :
حقيقت دادي چي ماموومحمدغيور شهيدجهاديوسترءزړور او نوميالي قوماندان و، هغه ځيل ژوند داللّه (ج) په لاره کي اودجهاد له پاره وقف کړي و، هغه خپل آرمان ته ورسيد، له خداي (ج) سره ئي په خپلي وعدي وفاوکړه! . هغه روح امانت بيرته خداي (ج) ته تسليم کړ او دکلمي په واقعي معني اومفهوم لي فوز اوبري ترلاسه کړ. دقرآن له نظره فايز او کامياب هغه څوک دي چي له خداي (ج) سره په خپل عهد وفاوکړي اودروح امانت داللّه په لاره کي هغه ته ورانديٌ کړي .
« ذالك هوالفوزالعظيم . ذالك الفوز الكبير »
(٣)مخ

راكت باران برشهر كابل (٢٠) كشته وزخمي برجاي گذاشت

نيروهاي اداره كابل وطالبان مواضع يكديگر را بابمب وراكت كوبيدند

كابل - ٢٠ عقرب :
ازشب گذشته تاظهرديروز راكت باري برنواحي مختلف شهركابل جريان داشته تلفات وخساراتي برجاي گذاشت .
يك منبع خبري ازكابل به شهادت گفت راكت هاي پرتاب شده كه شمارآن ازسي فير بيشتر بود، برنواحي ارگ، فروشگاه ، وزيراكبرخان، دامنه هاي كوه تلويزيون افغانستان وبعضي مناطق ديگر اصابت نموده بيست نفركشته وزخمي برجاي گذاشته است .
منابع مربوط به ادارهٔ كابل شمارقربانيان اين راكت باران را ٣٥ شهيدو ٥ مجروح اعلان كرده افزوده : از كارمندان راديو تلويزيون كه مصروف فلمبرداري بودند هدف راكت قرارگرفتند .
درخطوط مقدم جبهه درمنطقه ارغنده درگيري ميان ادارهٔ كابل وطالبان جريان داشته وطرفين مدعي پيروزي برجانب مقابل اند .
طرفين بااستفاده ازطيارات جنگي مواضع يكديگررا بمباران نمودند .

ديغمان په ولسوالی کی دنظار شوریٰ يوپراخ بريدپه شاوتمبول شو

دجگړی په ډگرکی دنظار شوریٰ د (٥) جنرالانو په گډون (١٠٠) تنه مړی اوټپيان پاتی شول

کابل - دليم ٢٠ مه :
ديغمان ولسوالي پـه شاالوخواکي دکابل داداري دځواکونو تعرضي بريدپه شاوتمبول شو .
دکابل څخه يوي باوري منبع شهادت ته وويل دنظارشورا دغه تعرضي عمليات دطالبانو دتيري ورځي دحملي په ځواب کي وچي ديغمان په ځينو سيموئي کړي وو اودقوماندان شيرعلم دري پوستي ئي نيولي وې .
منبع وايي دکابل داداري دځواکونو دغه تعرضي بريد دورځي په پولسويجو له ماتي سره مخ اودهغوي ځواکونه دزياتوځاني تلفاتو ترڅمل وروسته بيرته خپل پخوانيو سنگرونوته راپه شاشول .
منبع زياتوي په دغوعملياتو کي دواړو خواوته دسراومال زيات زيان وراوښتي خودقيق ربوټ ئي تراوسه پوري نه دي معلوم .
دنوي ربوټ په اساس ددواړوخواوو ترمينځ اوس هم ددرنووسلو انداختونه دوام لري اوډورځي په اوږدوکي دواړو خواوو دجنگي الوتکونه په استفادي سره ديويل په مرکزونوبمباري هم کړي دي .
بل خواته په پيښور کي دطالبانودفتريوه مسئول شهادت ته وويل ، دنني جگړي په ترڅ کي نه بوازي
(٤)مخ

دبلخ آب ولسوالی زياته برخه تصفيه شوه

دنظارشوریٰ (٦) تنه قوماندانان له هماهنگی عالی شوری سره يوځای شول

جوزجان - دلرم ٢٠ مه :
دجوزجان ولايت دبلخاب ولسوالي زياته برخه دهماهنگي عالي شورا دځواکونو دبرياليوعملياتوپه لړکي تصفيه شوه او زيات شميروسلي په ولجه ونيول شوي .
دوحدت اسلامي دگوندبوخبرځاي شهادت ته په خپل مخابروي ربوټ کي وويل دهماهنگي عالي شورا دځواکونوپه دغوعملياتو کي چي له دريو ورځوراهيسي پيل شوي وو دبلخاب ولسوالي مرکز اودزوك مزار، بالبوك ، پائين زيارت، دره جمال، كمره ، مرغاب، شهرستان ،بيغرله اوشادمان کليو اودکوه مرغاب اوگنداب پوځي مرکزونه دکابل داداري له ځواکونونه پاك شوي اوزياته اندازه درنه اوسپکه وسله دهماهنگي عالي شورا دځواکونولاس ته ورغلي . (٤)مخ

بخاطردفاع درمقابل حملات نظاميان روسي ورژيم درشنبه :

مجاهدين تاجك مصروف تجمع وتجديدقوااند

شهردوشنبه :
مجاهدين تاجك بخاطر حفظ مناطق شان وپاسخ دادن به حملات نظاميان روسي مصروف تجديد قوا وتجمع افرادجنگي درجنوب تاجكستان مي باشد .
به گزارش خبرگزاري ها الحاج اكبرتوره جان زاده معاون نهضت اسلامي تاجكستان وضعيت كنوني درتاجكستان را متشنج توصيف نموده ونسبت به آن اظهارتأسف نمود .
معاون نهضت اسلامي تاجكستان گفت رژيم دوشنبه باكمك وهمكاري مستقيم وبيدريغ روسيه ، آتش بس را نقض نموده وبرمناطق تحت كنترول مجاهدان تاجك حمله مي كند .
الحاج توره جان زاده دررابطه به اقدامات سازمان ملل متحد دراين زمينه خاطرنشان كرد كه : « ماعنواني سازمان ملل متحد نامه هاي اعتراضيه ارسال داشته ايم اما تابحال هيچ گونه پاسخي دريافت ننموده ايم » .
نامبرده خواستاررعايت توافقات قبلي شد به نظاميان روسي ورژيم دوشنبه
ص(٤)

بينظيربوتو بعداز ديدار باكريموف درتاشكند :

بعضي ازقوت هاي خارجي ازادارهٔ كابل حمايت مينمايند

بايد روی فارمول تنظيم قدرت در افغانستان كارشود

تاشكند - ٢٠ عقرب :
بي نظيربوتوصدراعظم پاكستان عازم تاشكند پايتخت ازبكستان گرديد.
براساس گزارش رسيده ازاسلام آباد، بي نظيربوتو حين ملاقات بااسلام كريموف رئيس جمهورازبكستان درباره وضع جاري افغانستان بحث وتبادل نظرنمود .
درگزارش آمده است كه سفر بي نظيربوتو به ازبكستان غيرمترقبه وبرمسائل افغانستان متمركزميباشد.
وي پس ازملاقات باكريموف به خبرنگاران گفت نظريات هردو جانب درمورد مسائل افغانستان يكسان ميباشد.
خانم بوتو اظهارداشت : افغانها بايد زعيم خودرا خود شان تعين نمايند، مداخله بيروني بايد پايان يابد وسازمان ملل متحد بايد تلاش كند تااسلحه ازبيرون به افغانستان ارسال نه گردد .
وي به جواب اين سوال كه اسلحه
ص(٤)

دفترنمايندگی روسيه درتالقان باز می شود

تالقان - ٢٠ عقرب :
وزارت خارجهٔ روسيه درشهرتالقان ولايت تخاررسماً دفترنمايندگي خودرا افتتاح مينمايد.
گريگوري كاراسين رئيس اطلاعات ومطبوعات وزارت خارجهٔ روسيه طي كنفرانس مطبوعاتي درمسكو بازگشايي اين دفتررا مركز بررسي اوضاع وارتباط باناظران سازمان ملل متحد درمورد بحران تاجكستان خوانده است .
اين مامورروسي اظهار داشت كه وزارت خارجهٔ روسيه فعاليت هاي خودرا براي برقراري صلح درتاجكستان ادامه مي دهد وبازگشايي دفترنمايندگي وزارت خارجهٔ روسيه در شهرتالقان نيزبهمين منظورصورت گرفته است .
نامبرده افزود كه روسيه بحيث ناظرين رژيم تاجكستان ومجاهدين تاجك باهيئات هاي سازمان ملل متحد همكاري مي نمايد . وي درمورد ارتباط اين دفتر بامسايل مربوط به افغانستان چيزي نگفت امانظران اوضاع معتقداندكه روسيه ميكوشد به اينوسيله ازنزديك ناظر حوادث جاري درافغانستان باشد.
هم اكنون علاوه بربيست هزارنظامي روسيه درتاجكستان صدها روسي ديگردرتركيب رژيم دوشنبه شامل اند بنابرين سران مسكو براي نظارت برحوادث تاجكستان نيازي به بازگشايي نمايندگي
ص(٤)

سكرتروزارت خارجهٔ پاكستان :

ايران از ناحيهٔ طالبان تشويش دارد ولی پاكستان از بالادستی يك گروه ديگر نگران است

اسلام آباد - ٢٠ عقرب :
نجم الدين شيخ سكرتروزارت امورخارجهٔ پاكستان ميگويد : ايران وپاكستان روي اين نكته موافقت دارندكه اوضاع جاري افغانستان روابط ميان تهران واسلام آباد را متأثر ساخته نمي تواند .
نامبرده پس ازبازگشت ازتهران باخبرنگاران دراسلام آباد صحبت ميكرد افزود : دوكشور خواهان استقرارصلح وامنيت وتشكيل حكومت وسيع البنياد شامل تمام گروه هاي درگير درقضيه افغانستان مي باشند .
نجم الدين شيخ درپاسخ بيك پرسش ديگرگفت طوري كه ايران از ناحيهٔ طالبان نگراني دارد، پاكستان نيز ازبالادستي يك گروه خاص درافغانستان درتشويش بوده زيرا دوكشور داراي سرحدات وسيع باافغانستان مي باشند .
سكرتر وزارت امورخارجهٔ پاكستان اظهارداشت كه ايران وپاكستان باهمكاري يكديگر تلاش دارند خونريزي ودرگيري درافغانستان پايان يابد .
نامبرده درمورد اينكه پاكستان باطالبان كمك مي كند گفت : سؤ تفاهماتي كه دررابطه به طالبان ميان ايران وپاكستان ايجاد شده بود درسفراخير خانم بي نظيربوتو به ايران رفع گرديده است .
نجم الدين شيخ افزود كه تهران واسلام آباد خواهان استحكام صلح وامنيت در سرحدات افغانستان مي باشد .
سكرتروزارت خارجهٔ پاكستان راجع به ادامه درگيري ها درافغانستان گفت كه ناآرامي ها درافغانستان ازهمه اولتر باعث بي امنيتي پاكستان وايران خواهد بود .
وي خاطرنشان كردكه مايه رفسنجاني رئيس جمهورايران گفتيم كه حكومت رباني رازروسيه وهند كمك وياري مي رساند

سران كشورهاي عضو « كامنولت » بعداز افتتاح اجلاس سالیانه دراوكلند

دردیدار رهبرجنبش ملی باوزیر خارجهٔ پاكستان تاكید شد :

ادارهٔ كابل بدون قيدوشرط كابل راتخليه كند

منابع رسمي پاكستان گزارش داده اند كه آصف احمدعلي باجنرال دوستم پيرامون اوضاع داخلي افغانستان بحث ومذاكرات تفصيلي نمود وطرفين باريكر تاكيد نمودندكه برتلاش شان بخاطراستقرار صلح وثبات درين كشورادامه ميدهند .
منبع افزود : آصف احمدعلي وزيرخارجهٔ پاكستان كه بنابر دعوت جنرال دوستم روزسه شنبه وارد مزارشريف شده بود، بارهبرجنبش ملي ديدارنمود و طرفين توافق نمودندكه درقدم اول بايد رژيم كنوني كابل بدون قيد وشرط قدرت را واگذاركند، ونيروهاي امنيتي خودرا ازپايتخت بيرون كند تازمينهٔ تشكيل حكومت وسيع البنياد فراهم گردد .
منبع گفت : وزيرخارجهٔ درنظردارد به شهرهاي ديگري هم سفركندوباسران افغان بخاطر حل صلح آميز قضيه مذاكره نمايد .
براساس همين گزارش ، جنرال دوستم رهبرجنبش ملي ، دوكتوركريم زاوع والي جوزجان ، جنرال عبدالملك رئيس بخش ارتباطات خارجي جنبش وبرخي ازاعضاي شوراي رهبري جنبش ملي، درميدان هوايي شبرغان آصف احمدعلي وهمراهانش را كه جنرال پاينده نمايندهٔ جنبش دراسلام آباد وقاضي همايون سفير پاكستان دركابل نيز شامل بودند استقبال نمودند .
آژانس خبري « پي پي آي » مي افزايد : سفريكروزهٔ آصف احمدعلي كه روز سه شنبه صورت گرفت قبلاً اعلان نشده بود اما روزچهارشنبه زمانيكه اين سفرپايان يافت وزارت خارجهٔ پاكستان بيانيه مطبوعاتي درين مورد صادر كرد .
هيئت ١٢ عضوي پاكستاني روز سه شنبه باجنرال عبدالملك رئيس كميسيون ارتباطات خارجي جنبش ملي نيز ملاقات نمود .
ص(٤)

افشاگریها در تحلیل بی سابقه ای ازیك ژورنالیست امریکایی راجع به اوضاع افغانستان

پیوسته به گذشته

ترجمه : حامد

عمرالخطاب: آقای ریچاردسن از شما تشکر میکنم که در پروگرام ما شرکت کردید. شما یکی از کسانی هستید که حقائقی را بیان کرده اند. البته، منظور من صرفاً حقائق راجع به مسعود نیست. مسعود هموطن ماست. من، جداً احترام زیادی برای مسعود قائل هستم . البته، از هر کسی ممکنست خطائی سر بزند. کسانی که در صدد خدمت برای کشورشان هستند، ممکنست مرتکب خطائی نیز شوند. احتمالاً، درین مسیر از مسعود خطاهایی سر زده است و شاید حکمت یار نیز مرتکب خطاهایی شده باشد.

مثلاً، در حال حاضر آنان مصروف قتل عام مردم کشور خود هستند. بحران کنونی حاکم بر کشور ما، غیر از نتیجه، اعمال، حسادت و قدرت طلبی آنان چه چیز دیگری میتواند تعبیر شود؟

آقای ریچاردسن، ممکنست بگویید در شرائط کنونی چه کار باید کرد؟

بروس ریچاردسن: آنچه که من امیدوارم، اینست که ایالات متحده، امریکا و سازمان ملل متحد با پشتکار بیشتری در جهت حل معضله، افغانستان همکاری کنند. امیدوارم آنها به کشوری که بخاطر مهار کردن ملیتاریزم شوروی این همه ایثار و فداکاری کرد، پشت نکنند.

از نظر من، جهان مدیون این ملت یعنی ملت افغان است؛ ملتی که در برابر زورگویی یك ابر قدرت ایستادگی کرد.

این چیزیست که من آرزوی آنرا دارم. امّا در جهان واقعیت، من نمیدانم که این جنگها را چگونه میتوان متوقف گرداند.

گروههای مطرح در افغانستان، هنوز هم کینه ترزانه از همدیگر یاد میکنند. این امر حاکی ازینست که این همه انزجار بین آنها وجود دارد.

این موضعگیریها، معضله را واقعاً پیچیده ساخته است. من از آینده مطمئن نیستم.

عمرالخطاب: من نیز مطمئن نیستم. من در حال حاضر ملت افغان را در یك تونل تاریك و طولانی می بینم.

مهریه مستمندی: ما باید نسبت به آینده خوشبین باشیم. زیرا اگر ما ایمان خود را از دست بدهیم، واقعاً آینده ای نخواهیم داشت. ما باید دارای اتکاء به نفس و ایمان به خداوند جلّ‌وعلی شأنه، باشیم. ما باید این اعتقاد را داشته باشیم که بالآخره راه نجاتی پیدا خواهد شد؛ مشروط به اینکه ما در جستجوی آن باشیم.

عمرالخطاب: بلی! قربانیان اصلی این فاجعه، ملّت افغان و کشور افغانستان هستند. مرد م کشور ما، بالخصوص اهالی شهر کابل درین جنگ قدرت، همه چیز شانرا از دست دادند. بعضاً کسانی از روی تعصّب، ازین یا از آن حزب دفاع میکنند. امّا، جهان شاهد است که این مظالم، بالخصوص پس از إنسحاب قوای شوروی، عامل چه مصائبی بر ملّت ما گردیدند .

آقای بروس! از شما تشکر میکنم که این همه وقت تانرا در اختیار ما قرار دادید. همچنان تشکر میکنم ازینکه شما زحمت سفر به افغانستان را متقبل شدید. در دوران مسافرت تان، شما قطعاً متحمل مشکلات زیادی شده اید. حتماً پشه های افغانستان شما را نیش زده اند؛ حتماً شما مکروبهای افغانستان را نوش جان کرده اید و حتماً با افغانان غذا خورده اید. فکر میکنم در دوران جنگ، شما همه، این مشکلات را تجربه کرده اید.

باز هم از شما تشکر میکنم که این زحمت را متقبل شدید. گر چه فردا رخصتی است، اما شما حتماً برنامه ای دارید. لذا، مراتب امتنان من و مهریه را بپذیرید.

آقای بروس! خواهشمند است به این آخرین سؤال نیز پاسخ بگویید.

بروس ریچاردسن: تشکر میکنم. این لحظاتی را که با شما گذراندیم، واقعاً برایم مسرت بخش بودند. تشکر ازینکه مرا به پروگرام تان دعوت کردید. من حاضر هستم سؤال را شنیده و به آن پاسخ بگویم.

ضیاء الله: چند تن از برادران ما، مهمان عزیز ما شاغلی ریچادسن را مورد انتقاد قرار دادند که گویا ایشان از آقای حکمت یار پول دریافت میکنند. در حالیکه ایشان یك ژورنالست هستند و به پول ضرورت ندارند [!]. ایشان حتماً پولی دارند که میتوانند به سفرهای خارجی بروند.

شاغلی بروس ریچاردسن! سؤال من اینست که از نظر شما کدام گروه بیشتر از سائرین برای ملت افغان مصدر خدمت گردیده است و نیز بگویید که کدام گروه را برای آینده، افغانستان، مصدر خدمت می یابید؟

بروس ریچاردسن: این یك سؤال خیلی مشکل است. منتهای سعی من آن خواهد بود که پاسخ درستی به آن ارائه کنم. در شرائط کنونی، به نظر میرسد که کسی وجود نداشته باشد که بتواند بر تمام کشور افغانستان تسلط یافته و این کشور پارچه پارچه شده را دو باره متحد سازد. شما میدانید که عده، زیادی خواهان عودت ظاهر خان پادشاه اسبق به افغانستان هستند.

جنگهای داخلی گروهها کار را بجایی رسانیده که مشکل است کسی بتواند گامی فرا پیش نهاده و قادر شود که به تنهایی کشور را ازین بحران نجات بخشد. البته، در جایی کدام خوشحال خان ختکی شاید وجود خواهد داشته باشد که بتواند این کشور پارچه پارچه شده را دو باره متحدد گراداند. اما، ما تا حال خبری از او نداریم .

من بعنوان کسی که از بیرون به قضایا می نگرد و لی علاقه، مفرطی نیز به افغانستان دارد، سعی میکنم درین رابطه بیطرفانه قضاوت کنم.

برای من خیلی مشکل است که بتوانم بگویم که این فرد یا حزب، یا آن گروه را می پسندم. البته، من خصوصیات بعضی از افراد را تمجید میکنم .

من این موضع آقای حکمت یار را خیلی می پسندم که با مداخلات بیگانگان در امور داخلی کشورش مخالفت میورزد. از نظر من، این موضوع حائز اهمیت خیلی زیادی است .

البته از نظر من، آقای حکمت یار از آن چنان حمایتی برخوردار نیست. از نظر من، دیگران نخواهند گذارد که وی بقدرت برسد. بر اساس استنباط من از اوضاع، اینگونه به نظر میرسد که همه، جهان علیه آقای حکمت یار متحد گردانیده شده باشد. بناءً، من فکر نمیکنم که آقای حکمت یار در آینده، نزدیك بتواند به قدرت برسد.

من خواهان قطع مداخلات خارجی در امور داخلی افغانستان هستم. از نظر من یکی از معضلات بزرگ افغانستان، مسئله، مداخلات خارجیان در امور داخلی این کشور است. مقدار زیادی پول و مواد نظامی از خارج به افغانستان سرازیر میشود تا به اوضاع سیاسی درین کشور جهتهای خاصی داده شود. از نظر من، این مداخلات به وخامت اوضاع میافزایند. من معتقدم که ایالات متحده نیز میتواند درین کشور بیشتر فعال باشد.

باید بگویم که مطمئن نیستم چه کسی از میان این بحران پیروز و فاتح بیرون خواهدآمد. امّا، هر کسی که باشد یا کسانی که باشند، امیدوارم که دارای احساسی باشد یا باشند که من دارم و آن اینکه حتماً در خدمت مردم افغانستان قرار داشته باشد، باشند. ملّت افغان و کشور افغانستان مانند هر ملّت و کشور دیگری در جهان، نیازمند به حمایت و کمك هستند.

پایان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر : محمد نذیره«بشارت» .

تحت نظر هیئت تحریر

تیلفون : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

دوینو بوی

زموږ دهیواد دننه چي کومه وضعه ده ، پوهېږي قوتونه چي په کوم موقعیت کي واقع دي، دقدرت مرکزونه چي په کومه بڼه دخپلي بقا هڅي کوي، اوبهرني دریځونه اوانکشافات چي په کوم شکل راروان دي، هغه ټول زموږ مظلوم ملت ته دیوه خونړي مستقبل خبري کوي، له هغوټولو نه زموږ دمومن ملت دبچیانو دوینوبوي راځي اوهغه ټول داسي معلومیږي چي یولوي تیاري نیول کیږي ، ددي لپاره چي په افغانستان لا نوري زیاتي وینې هم توئې شي .

طالبانو کابل ونه نیولای شو، کابل اداره په قوت مقاومت کوي، له هغې ورځي چي دهرات تر سقوط وروسته طالبان دکابل ترڅنګو کمربندونو ورتیرشول ترنن پوري دېري ورځي ووتي .

کله چي طالبانو په وروستي ځل چهارآسیاب ونیوله ، ذهنیت داسي شوچي بس ترسبابابل سبا پوري به کابل په بشپړه توګه سقوط کوي اوپه ټول کابل اواحتمالاً ټول افغانستان به دطالبانو دغلبې بریغ پورته کیږي . په کوم سهار چي دطالبانوځوا دچهارآسیاب دنیولو خبرخپورشو، هماغه ټوله ورځ په پېښوروکي له شایعاتوډکه ورځ وه . دېرومهموکسانواومنابعو به په پوره ډاډ ویل چي یابه ترنن ماښام اویاسباسهارپوري کابل دطالبانو په لاسونوکي پرېوځي . خو دشهادت په سرمقاله کي په هماغه وخت کي ولیکل شول چي داصحیح ده چي دچهاراسیاب نیول دطالبانولپاره دحساب وړبري دي خودطالبانو په وړاندي دکابل اصلي کمربند په مخ کي دي اودهغه ماتول اسانه کارنه دي ، له هغه وخته راهیسي ډېري ورځي تیري شوي اوپه دي موده شدیدي جګړي هم وشوي خوطالبانوکوم پرمختګ ونکړای شوای ، که څه هم خبرونه ئي زیات نه دي خپاره شوي خوواقعیت دادي چي طالبانو دارغندي اویغمان په استقامت کي توند عملیات هم ترسره کړل اوعمومي ذهنیت دادي چي دطالبانو په وړاندي دکابل اداري ترټولو نفوذ پذیراوضربه خوړونکي استقامت هم دادي . مګر تراوسه طالبانو له شدیدوتلفاتوپرته څه نه دي ترلاسه کړي .

دلته زموږمطلب له دي نه دمسئلي نور اړخونه څېړل نه دي بواځي داوایو چي تروسه په پوځي لحاظ اوضاع داسي نه معلومیږي چي دبحران په حل کي دي مرسته وکړي ، بلکي حالات داسي ښئي چي دخونړیو جګړو لپاره تیاري نیول کیږي اوددردوونکوپیښو داوږدیدو خطرله منځه نه دي تللي .

په بهرني اړخ کي هم اوضاع داسي ده چي په افغانستان کي دروسیي دلچسپي اولاسوهنه ورځ په ورځ زیاتیږي، په دي باره کي دایران اوپاکستان اختلافونه ، نه یواځي کم نشول، بلکي دزیاتېدو خطرئي موجوددي، ځیني نورلوي طاقتونه هم لا اوضاع دي ته ورنه بولي چي ددوي دخوښي حل دي تحقق ومومي هغوي غواړي چي دجګړي یوه بله مرحله هم زموږ په وطن تیره شي، اوپه دي توګه دوي دخپلواهدافو ډولي زموږ دایري،ابري هیواد له پاسه تیره کړي، په همدي ښابهرني انکشافات اودریځونه هم داسي دي چي په افغانستان کي دسولي له راتلوسره مرسته نه کوي، نه داچي مرسته نه کوي، دجګړي لمبي لاتوندوي اودامظلوم اوبي وس اوبي کسه ملت دجواروددانو په څېرپکي ترکوي .

په همدي وجه ده چي موږوایو هم زموږدهیواد داخلي حالت داسي دي اوهم دخارجیانو موضعګیري او چلنونه داسي دي چي په څرګنده ورځیني دوینو بوي راځي .

یواځي صالح اوهوښیار مسلمان افغانان کولای شي چي داوضاع دردناکتوب اونازکتیا درك کولای شي اوپه یوه معجزه اسا قرباني اوتدبر یوبل ته لاسونه ورکړي، په یوه انګیزه اویوه هدف حرکت وکړي اوددي تیاري شیبي زره دسهارپه رڼاڅېري کړي اوخپل مظلوم ملت له یوه هولناك سقوط نه وژغوري .

[redacted] حال دویلو لایق ندی [redacted]

میلمستیا؟!!

میوند

هغه بله ورځ په پېښوروکي دکابل کونسل ښاغلي جنرال موسي خان یو درنده میلمستیا ورکړي وه په میلمستیا کي دامریکي او المان دقونسلګریو مشران دکوریه هیواد لوړ رتبه مامورین اوځیني افغانان شامل وو .

زه نه پوهیږم چي د جنرال صاحب ددغه میلمستیا عنوان یا هم مطلب څه و خو خبریالانو ته یې دخبر وپروخت ویلي و چي په تیرو دریو میاشتو کي زما له ټاکني وروسته دځینو مصروفیتونو له مخي ما داوخت اوفرصت نه و پیداکړي چي دخپلي نوي عهدي په اړه میلمستیا درکړم اوله " ورونو "سره دتعارف ، ملاقات اودخبرو زمینه مساعده کړي شم .

پدي هم ماغوندي سادګان سم نشي پوهیدلي چي دجنرال صاحب به په کومو چارو دومره مصروف اوبوخت و چي حتي تعارفي میلمستیا ته یې هم وخت ندي پیداکړي . خو تر کومه چي زما ناقص عقل کار کوي کیدي شي چي دوي ددوو اندیښنو له مخي دامیلمستیا ځندولي وي دا بیا بیله خبره ده چي دمیلمستیا په ضرورت خبري وشي .

هغه دوي اندیښني داکیدي شي چي یو خو جنرال صاحب دخپلي مقرري ګشونزو داسي کړولي اوبي اعتماده کړي ؤ چي هره لحظه ددي ویره موجوده وه چي له ربانی صاحب دي څوك بل مکتوب واخلي اودقونسلګري دتصاحب فرمان دي ترلاسه کړي . ځکه په کابل کي دمجاهدینو له حکومت وروسته یېله دي چي یو دپلومات خپله ټاکل شوي دري کلنه موده تیره کړي لا میاشتي اوکال هم نه وي تیر چي دوه دري پکي تبدیل شوي او برطرف شوي وي - خپله په پاکستان کي دښاغلي سردار روښن او وکیل التجار دتبدیلي کشاله او دجنرال موسي خان دټاکني اوسرمعلم صاحب ظاهرخان دمعزولي جنجال له هیڅا نه پټ اوهیرندي ځکه خو اوس پدغو پوستونو هیڅوك هم اعتماد نشي کولي اوهره ورځ یې نوي شکونه او دحالاتو تبدیلي پدي اندیښنو کي دوبوي چي دلته هرڅه کیدي شي.

دا کشالي که دافغانستان داخلي معاملات نه ګڼل کیداي نو دغو ښاغلیو تبدي مپاکستان سپریم کورټ اوهایي ورټ یې هم دعوه داتره کړي واي ... ته نو نور ... پردې څوکېو دپاتي ... تولي ذرایع استعمال اوامکانات اواحتمالات ټول نه ولټول شول بله اندیښنه دپاکستاني مقاماتو هم وه چي پدي وروستیو کي یې دکابل نژدي شل ته سفارتکاران له هیواد ته وشرل اوس نو که جنرال صاحب میلمستیا ورکړي واي اودا دومره لګښتونه اومصارف یې هم کړي واي او بیا خداي ناخواسته ایستل شوي واي بیا به څه ترې جوړ.

خو اوس ددغي میلمستیا له امله داسي معلومیږي چي دجنرال صاحب نوکري پخه شوي اوزړه یې ډاډه شوي دي داډ ښه شي دي سکون اواطمینان دانسان او بیا دپلومات لپاره خو ډیر ضروري دي ددغه میلمستیا په اړه یو سوال ماته داپیداکیږي چي دامریکي اوجرمن له دپلوماتونه پرته دهیڅ یوه عربي هیواد دپلومات یاکومي عربي موسسي څوك مشر نه و دعوت شوي چي دا یونوي خو نادر انکشاف باید وګڼل شي.

البته زه داخبره دهغو اخبارونو په حواله کرم کومو چي ددغه میلمستیا تصویرونه اوخبرونه یې خپاره کړیدي . دا لومړي ځل دي چي افغاني میلمستیا دي له عربي میلمنو خالي وي . پخوا به په افغاني میلمستیا ووکي غربیانځه و عربان به ډیر بر اوښه بر کینول شولاوړ په تیره په دایو څو تنظیمونو کي خو اتحاد لدي ټولو زیات عربو ته نژدي اوخوږ خواوس عربان لکه چي دهیرو شیرو آشنا یانو په لست کي نیول شوي او ځاي یې غربي دپلوماتانو ډك کړي نه،بلکي اشغال کړي،ځکه خو دجنرال صاحب په میلمستیا کي هم دهیڅ یوه عرب ورور درك نه لګیده سړي ته پوهیږي داکومه نوي تجربه ویولي او که نوي پرمختګ او که یا هم څه بل څه .

بله جالبه خبره داده چي جنرال صاحب دمیلمستیا هدف له "ورونو" سره تعارف او یا هم په بل عبارت دآشنایي ټینګول بللي دي.

ورور – ملګري ، رفیق ، انډیوال ، إشنا ډېري خوږي اودمینې،او خلوص کلمي دي خو له بده بخته پدغو کلمو هم سیاسي جریانونوقبضه لګولي او لکه سره ،شنه ، سپین – تور رنګونه هریو دیوه خاص جریان نماینده ګي کړي .

ملګري اورفیق – دخلقیانو پرچمیانو اصطلاح وه . انډیوال دمرحوم میوند وال صاحب دګوند (مساوات) اصطلاح وه چي وروسته بیا انجنیر احمدشاه احمدزي هم خپله کړي وه او پېژندګلو ته به یې داندیوال خطاب کاوه . ورور تنیو مجاهدینو غوره کړي – ورور فلاني – دجمعیت ورونه دحزب ورونه او داسي نور، نپوهېږم چي په اشنایه هم چا ختیه اچولي وي .

که نه خوزداسي ګومان کوم چي دا به دافغان ملتپانو اصطلاح یا هم تکیه کلام ګرځیدلي وي .

په اسلام کي مسلمانان ورونه ګڼلي شو (انما المؤمنون اخوة)

خو جنرال صاحب لکه چي دوروڼو اصطلاح عامه کړي وي ځکه ده دامریکي اوجرمن قونسلان هم پخپلو وروڼو کي شامل کړیدي .

دده لدي خبري سره که څوك اختلاف لري که اتفاق خوزه دده دوسعت نظر قدرکوم همداسي لکه چي په یوه بل کالم کي مي هم دده جذباتو اوجرأت ته سلام کړي و .

جنرال صاحب دلته دانساني رشتو اواړیکو هڅه کړي چي یقیناً یوه ډیره سه هڅه اوغوره تلاش دي.

وروڼه خو اړه وي ګران وي ترمنځ یې مینه او باوروي . دمسلمانانو له ورورۍ ته خو که ریښتیا راپاتدي وایي څه جوړ نشول داسلامي ورورۍ خو داحال شو چي ګورویي اوس که انساني ورورۍ دانسانانو ترمنځ ټینګه شي ددي به څوك قدر اوهرکلي ونه کړي.؟ دانساني ورورۍ له امله دانسانانو ترمنځ دوښمني ، نفرتونو جګړي او مرګونو ټولي خونړي کشالي پاي ته رسیږي بیا نو څوك ولي خپل ورور ووژني ، دمرګونو لپاره وسلي جوړي کړي.

امریکا ، جرمن یا نورولي انسانان یعني خپل وروڼه سره وجنګوي – استعمار اواستثماري کړي زه فکر کوم چي دامریکي اوجرمن دپلوماتانو ته دجنرال صاحب دورور په خطاب او دوروولي لاس اوږدولو کي همدا مطلب وي . که څوك هسي نورشکونه کوي دا دهغوي کاردي.

ګومان هسي هم دایمان زیان دي ښایي چي تري ځان وساتل شي .

که داکار وشي یعني انساني وروروولي ټینګه شي او انسانان سره ورونه شي لکه چي په حقیقت کي دیوه پلار زامن هم دي نو ټولي کشالي او زیړي حل دي دایوډېرښه انکشاف دي . چي موږ دانساني رشتو په هڅه کي شو. جنرال صاحب ډیر ښه ټکي ته پام کړي او غوره داعیه یې وړاندي کړي تن له بل هرڅه

زیات دانساني ورورولي لټون ضروردي ځکه همدا انسان اشرف المخلوقات او دهمدغه انسان عزت اووینه دداسي درنښت وړ ده چي دانساني وینې په توئیدو دعرش ستني لړزیږي .

پدي کي نو بیا څه بدي ده چي جنرال صاحب دامریکي اوجرمن کونسلانوته وروڼه ویلي یا یې هم دوروڼو په لست اوولّه کي حساب کړي دي . چا ته دورورۍ لاس غزل ښه پرمختګ دي لدي نه چي چا ته ددښمني له موقف نه خبري وشي . دوستي، اوورورۍ چي هرځاي اوله هرچا سره وي ښه ده ، ښه ته باید ښه وویل شي .

نن انسانانو ته دانساني رشتو دلټولواوټینګولو ضرورت اودانساني اړیکو درناوي دانساني حقوقو اودانسان دحیا – عزت مال اووینې دتحفظ ضامن .

خو دریغه چي موږ لومړي پخپلو کي دورورولي ورکه ولټوو – خپل ته دورور ي لاس وغځوو اوپخپلو کي دورورولي دټینګولو هڅه اوتلاش پیل کړو .

ځکه څولځظو له دساقي ته سرور وغواړم

دا چي زندګي مي دحالاتو په میچنه ده.

سیاست خارجی !!!

پایان تحصیلات در این مؤسسه در ماه مه ۱۹۷٤ وي یك دیپلمات حرفه اي شد وتا پست ریاست ادارهٔ وزارت خارجه شوروي ، ارتقا یافت او یکي از اعضاي هیئات هاي نمایندگي اتحاد شوروي در جلسات مجمع عمومي سازمان ملل بود،اما هرگز در ماموریت هاي خارجي کشورخود شرکت نداشت . کوزیرف درپست وزارت خارجه ، فعالانه براي برقراري صلح در یوگسلاوي سابق مي کوشید، اما مورد انتقاد تندروهایي درمسکو بود که وي رابه دلیل تسلیم شدن در برابر غرب وموافقت براي تحمیل تحریم بین المللي بریوگسلاوي سابق درسال ۱۹۹۲ ،مورد شماتت قرارمي دادند . به دنبال کودتاي نافرجام اگست ۱۹۹۱بر ضد میخائیل گورباچف ،رئیس جمهوري وقت ، کوزیرف سرگرم تنظیم توافقنامه هایي بود که رسماً باعث فروپاشي اتحاد جماهیر شوروي شد و جامعه کشورهاي مستقل مشترك المنافع را به وجود آورد . در سال ۱۹۹۲ شهرت کوزیرف به عنوان یك سیاستمدار لیبرال لطمه دید و این هشداري به همکاران غربي وي بود.

اودرنشست وزیران خارجهٔ کنفرانس امنیت وهمکاري اروپا در استکهلم در ١٤ دسامبر سال ۱۹۹۲ به سخنراني تندي پرداخت وقدرت هاي غربي رابه دخالت درامور شوروي سابق متهم کرد و گفت : ازنیروي ارتش براي برقراري آرامش در جمهوریهاي شوروي سابق استفاده خواهد شد . وي همچنین تهدید کرد که به یاري صربهاي یوگسلاوي خواهد شتافت . او در میانٌ هیاهوي جمعیت توضیح داد که آگاهانه سیاست دیپلماسي شوك را در پیش گرفت تا نشان دهد که درصورت به قدرت رسیدن مخالفان سیاسي یلتسین در روسیه ، چه سیاستي در این کشور اعمال خواهد شد . از آن پس تاکنون ، وزارت خارجهٔ روسیه لحن خود را نسبت به غرب تغییر داده وموضع تندي را اتخاذ کرده است و ظاهراً کوزیرف نیز کوشیده تا خود را با این سیاست هماهنگ سازد . در دسامبر سال ١٩٩٤ ،وقتي کوزیرف در آخرین دقایق از امضاي اسناد همکاري باکشورهاي ناتو براي مشارکت در روند صلح در سراسر اروپا امتناع کرد ، زنگ هشدار به صدا درآمد واو سرانجام در اواخر ماه مي ، این اسناد راامضا کرد وپس ازآن نیز اعلام کرد که مسکو به شدت مخالف گسترش پیمان ناتو به کشورهاي اروپاي شرقي است . کوزیرف در یك اقدام آشکار براي آرام کردن محافل ناسیونالیست ، تائید کرد که وي استفاده از زور براي دفاع از ۲۵ میلیون روسي ساکن در جمهوري هاي شوروي سابق رامنتفي نمي داند . این سخنان وي ، کشور هاي بالتیك را به لرزه انداخت .

شایعات مبني بربرکناري قریب الوقوع کوزیرف ،موقعیت وي را به روشني بي ثبات ساخت . وي اعلام کرد ، سیاست من عبارت است از ادامه راه گذشته در امروز ، که این سیاست با نام بوریس یلتسین همراه است . این سخنان ، آرایي همچون آواي ناقوس مرگ ، با خود داشت .

ازنشریه اطلاعات چاپ تهران

دژوند تر پایه به جهاد کوو، دانجام پروا نلرو، دعاقبت فیصلې خدای (ج) کوي

لويه پيروزي همداده اوسترېږي همدادي ، الله پاك دي دهغوشهادت قبول كړي، الله پاك دي هغوي اودهغوي همسنګرو شهيدانووروڼو ته مغفرت وكړي ، الله (ج) دي دهغوي آرمان ترسره كړي، دهغوي آرمان داو چي په افغانستان كي داسلام بيرغ اوچت وګوري اسلامي نظام قائم وګوري، د افغان مظلوم ولس دظلم اواستبداد له منګلونه آزادكړي، ان شاء الله داآرمان به ترسره كېږي ، دښمنان نشي كولي چي ددي آرمان دتحقق مخه ونيسي، نه په جبر اونه په توطئو، روسانو اودهغوي مزدورانو ونشواي كړاي شهيد محمدغيور دجهاد له لومړيو شپوورځونه ترنن پوري تل په داخل كي پاته شوي ؤ،بركم دملك نه بهروتلي هغه هم دسخت مجبوريت په وجه په شمال كي دجنګ ترټولو تودسنګر بغلان و لكه په جنوب كي چي محمد آغه وه ، باپه جنوب غرب كي كندهارارغنداب اومالـه جات اولكه په شمالي اوپروان كي چي قره باغ ودهيوادپه شمال كي ترټولو تودسنګربغلان و چيري چي ترټولوزياته جګړه شوي اودښمن ته ترټولو زيات تلفات رسيدلي نوهغه دبغلان ولايت دي اوپه دي تودسنګركي دمحمدغيور شهيدلوپه برخه وه ، هغه ددښمنانو په مقابل كي قاطع او سازش ناپذير و، په سرسختي سره ئي ددښمن مخالفت كولو، په خپله ئي په جګړوكي برخه اخيسته ، دهغوقوماندانانوپه شان نه و چي دمجاهدينو قرباني به ئي ځان ته منسوبولي اوپه خپله به له سنګرنه لري وو ، هغه تل په داخل دسنګركي له مجاهدينو سره اوږه په اوږه په لمړي خط كي جنګيدلي .

مرګ په خپل وخت راځي، نه ئي نيټه بدليږي اونه ځايئ دروس په خلاف په هغوسترو اوسختوجګړوكي دهغه اجل نه وُرسيدلي هغه ژوندي پاته شو . په دي دري كلونو كي هم دبغلان ولايت دمجاهدينو په خلاف لوئي، لوئي جګړي شوي، كله دكابل نه داجګړي رهنمائي شوي دبغلان له لاري دهغه په خلاف ترسره شوي اوكله هم دكندزلخوا په دي ټولو جګړوكي هغه روغ رمټ پاته شوي، بالاخره په همغه شيبه چي الله پاك ورته مقدره كړي وه دبوخائنانه توطئي په نتيجه كي چي دكابل اداري لخوا نه تنظيم شوي وه هغه په شهادت ورسيږي دخپلو اوه لسو همسنګرانوسره ،دي كي هيڅ شك نشته چي په دي خائنانه توطئي كي هم دكابل داداري مستقيم اوغيرمستقيم لاس وه غيرمستقيم په دي خاطر وايم چي په ملك كي كومي جګړي دي، بي امنيتي ده وينه توئيږي ، خلك په قتل رسيږي ، چور، چپاول، غارتګري ده ددي ټولو وجه دكابل ائتلافي اداره ده اوپه مستقيم طور په دي خاطر چي همغه كسانوچي ماموغيورشهيد ئي پـه شهادت رسولي دكابل ســره ئي تعلقات وو، ددغه تعلقاتوپه وجه هغوي داخائنانه اقدام كړي، زه باورلرم چي ان شاء الله دهغه نامرده قاتلان به دالله (ج) دانتقام نه، نه ژغورل كيږي هغوي به خپله جزا ګوري، په دغوورځوكي زمونږمخينتي نورقوماندانان هم په شهادت رسيدلي، لطف الله آغا دكندهار يو مشهور صالح اومخلص قوماندان همدارازپه تيره هفته كي زمونږيوبل زړورقوماندان دعرب زاده په نوم چي دهرات په جګړوكي ئي لويه ونډه وه دهمدغسي دبوځتوطئي په نتيجه كي دكابل داداري دافرادوپه لاس په شهادت رسيدلي .

حزب اسلامي دمصيبتونو او قربانيو،يتيمانو او شهيدانو حزب دي

له كومي ورځي نه چي حزب اسلامي په افغانستان كي داتحريك شروع كړي، داسلام شين بيرغ ئي اوچت كړي ، اوه ويشت كاله دمخه ، له پوهنتون نه دكابل دزړه نه ترنن پوري حزب اسلامي مصيبتونوكي ، اودسرونو اووينو دنذراني په لاركي سترشوي ، دمصيبتونو په غيږي كي رالوچت شوي دظاهرشاه له دوره چي داتحريك پيل شو اوددي نهضت دافرادو زندانونوته تګ شروع شوي بيا دداود په وخت كي چي دهجرت اوشهادت سلسله پيل شوي اوبيا دكمونستانو دكودتا نه بعد چي مونږوسلي ته لاس كړي اواسلامي جهادموپيل كړي ، دروسي پوځونو دراتګ نه بعد اوترننه پوري چي حزب اسلامي دبهرنه دستروبين اللللي توطئو سره مخامخ دي په داخل كي دشراوفساد قوتونه ديرديو دلاس دآلي په حيث دحزب اسلامي په خلاف استعمال شوي مونږ په مصيبتونوكي سترشوي يو، په كړاونو كي لوي شوي يو زمونږ لار دهجرت ، جهاد اوشهادت لارده ، مونږ په دي موده كي تقريباً اتيا زره كسان (۸۰۰۰۰) چي دحزب كارت ئي درلود اوله حزب سره دتعهد اوارتباط په جرم نيول شوي، زندانونوته تللي اوپه وحشيانه ډول شكنجه شوي اودحزب اسلامي تقريباً يونيم لك كسان په شهادت رسيدلي دي، دمهاجرينوپه سلوكي اتيا حزب پوري مربوط دي ، دپاكستان دحكومت درسمي ادارو احصائيه ښئي چي څوك پاكستان ته رامهاجرشوي په سلوكي اتيا ئي هغه دي چي دحزب كارت ئي درلوده، له حزب سره دتعهدپه وجه لـه ملك نـه هجرت ته مجبور شـوي ، د حـزب پسي اودحزب داهدافو داوچتومقاصدو دتحقق له پاره ئي دهجرت لاره غوره كړي .

حزب اسلامي دشهداوو حزب دي ، حزب اسلامي ديتيمانوحزب دي، حزب اسلامي په زندانونوكي دشكنجه شوو او پاخه شوو كسانو حزب دي، حزب اسلامي د هغوكسانو حزب دي چي خپل سراوونه ئي دخداي (ج) په لاره كي نذرانه كړي .

دالمړي ځل نه دي چي مونږ دتوطئو سره مخامخ يو فرق ئي صرف دومره دي، چي دتحريك په ابتدا كي زمونږ په خلاف رژيم و بيا په حزب اسلامي دغسي مرحله راغله چي بوالځي كمونستي بلاك دهغه مقابله كوله ورووسته دروسي پوځونو دوتلو نه بعد روس اوامريكاپه ګډه توافق كړي چي بايد پرينږدي چي حزب اسلامي قدرت كي شريك شي ، كابل ته داخل شي، دحزب اسلامي حكومت جوړشي، بايدپه هرقيمت چي كيدلي شي په حكومت كي حزب اسلامي دبرخي اوونډي اخيستلوته بايدمخنيوي وشي، حزب بايد محاصره شي، محمويد اوختم شي، مونږ دروسي پوځونو دوتلو نـه بعد ددغسي يوګړ سازش سره مخامخ شوي يو، خومونږ صابريو، دالله (ج) سره په خپل كړي تعهد ټينګ ولاړيو ، ترڅوچي ژوندي يو داسلامي حكومت داقامي له پاره به جهاد كوو، ددي پروانه لرو چي انجام اوعاقبت به موڅه وي، دعاقبت فيصلي له خداي (ج) سره دي .

مونږ داجهاد داسي كړي لكه لمونځ ، دبدلي اودپاداش له تمي نه پرته ، دخپل الهي فرض اومسئوليت دادا كولو له پاره . خلك غافل و ، په وضع راضي وو، دمفسدو، ظالمو حكومتونو په وړاندي محتاط وو تسليم وو چادمنبر په سردحكامو له پاره دعاكوله ويل ئي : خلدالله ملكه وسلطانه چادهغوي تنخواګاني اومعاشونه اخيستل، چادهغوي خدمت كولو ، دهغوي مامور و، ولي مونږداسلام كلمه اوچته كړه اوله اسلام نه ددفاع په خاطر موداتحريك پيل كړه، زندانونوته لاړو دهجرت لارموغوره كړه .

زه ووېنوته وايم داسلام په لاره كي چي په دغه اوويشتوكلونوكي چابرقدم هم اوچت كړي،يوقطره خوله ئي په ځمكه توي شوي اويوحرف ئي په ژبه راغلي په خولي راغلي، حزب اسلامي اوتول په ثواب كي شريك ګڼي، لكه ددي تحريك بنيادحزب اسلامي ايښي، داسلام كلمه حزب اسلامي اوچته كړي ده ، داسلام له پاره دجهاد داسلسله اولاحزب اسلامي پرانيستلي ،دهجرت اساس حزب اسلامي ايښي، «شهادت ابتدا دحزب اسلامي دمجاهدينوله وينونه شوي دا لار دلمړي ځل له پاره دحزب اسلامي دسرتيرومجاهدينو په وينو سره شوي ده او دنوروله پاره ئي نقش قدم پيل كړي ، نوريه حزب اسلامي پسي راغلي خوكاش هغوي هم دحزب اسلامي دمخلصو مجاهدينوپه شان له غرض نه پرته ،دخپل الهي مسئوليت دادا كولو له پاره په دي لاردتګ فيصله كړي واي .

روانه وضعه اودبحران دحل لار

دروېنو ا كه څه هم دافغانستان روان وضعيت ډير ستيري كړي ، ډير مأيوس دي، آينده ورته مجهوله برېښي ګمان كوي چي له دي حالت نه دوتلوتوګولي لاري بندي دي فكركوي چي شايد هره ورځ ئي تريلي نه بدتره وي ولي زمونږ باوروډي چي داتوره شپه په ختميدو او رڼ سباون په راختو دي، دتل له پاره تياره نه پاته كيږي داالله (ج) سنت دي تيارونه بعد رڼا راځي دهغه رڼا په راختو باندي زمونږ يقين او باوروډي . داحالت به بدليږي ، افغانستان كي به خامخا سوله اوامنيت راځي، خامخا به اسلامي حكومت قائميږي خامخا به زمونږ ددي شهداوو ارمان ترسره كيږي متأسفانه دكابل كرغيړنه اداره چي ديرديو دلاس آله ده لاتراوسه په جګړو اصراركوي، په دي ٤١ مياشتو مسلسل جګړوباندي هغوي اكتفا ونكړه ، همدا اداره دجګړو بـاعـث ده ،دوي له كمونستانوسره دائتـلاف پـه وجـه ددي جګړو بنياد كيښود غوښتل ئي چي دروس او دكمونستانو په مرسته قدرت ته ورسيږي، دجګړو لاره ئي غوره كړه، په افغانستان باندي ئي داجګړي تحميل كړي، هغه اوس هم په جګړو اصرار كوي ګمان كوي چي دروس، هند په مرسته كولي شي په افغانستان حكومت وكړي، متأسفانه چي له دي بهرنيو ځواكونو سره نن ايران هم يوځاي شوي، اودايران يوځاي كيدل دكابل ائتلافي اداري ته مزيد جرئت اوزواورك وركړي چي كولي شي په قدرت كي پاته شي هغوي په پرديو دتكيي لارغوره كړه ، دجګړي لارئي اختيار كړه انحصارطلبي ئي وكړه غوښتل ئي چي دبوي ولي، يوه قوم او يوي منطقي دخلكوحكومت په ټول افغان ولس باندي وتپي ،هغوي په خپلوتعهداتوونه دريدل، له دوست ،دښمن سره ئي دوكه وكړه له هرچاسره دهغوي معامله په فريب اودوكي ولاړه ده چاچي دوي قدرت ته رسولي وو هغوي سره ئي هم صادقانه معامله ونكړه .

